UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**یوناما په افغانستان کې د سولې په لور ګامونو له امله هڅيدلې ده**

**کابل، د ۲۰۱۷ کال د مې لومړۍ نېټه –** هغه شان چې په دې وروستیو کې د افغانستان د حکومت او د ګلبدین د حزب اسلامي ترمنځ شوي هوکړه لیک نه ښکاري او افغانستان ته د ګلبدین حکمتیار سوله ییز راستنیدنې ته په کتو، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی یوناما په افغانستان کې د سولې په تړاو پرمختګ له امله هڅیدلې.

یوناما د یوې عادلانه سولې او د ښو لپاره د تاوتریخوالي پرېښودو ته د ټولو لیواله کسانو د راښکیلولو په تړاو د افغانستان د ملی یوالي حکومت له هڅو ملاتړ کوي.

د ګلبدین له حزب اسلامي سره تړون، د سولې لپاره د حکومت له مخالفه وسله والو عناصرو سره د افغانستان د حکومت چمتوالی په ډاګه کوي، یوناما په بشپړه توګه د تړون عملي کیدو او همدارنګه د سولې له بهیر سره د نورو وسله والو غاړو یو ځای کیدو ته سترګې په لار ده.

د سولې یو با اعتباره بهیر باید د افغانانو له لوري سمبال او د افغانانو په مشرۍ پاتې شي، چې په ګډه سره یو ځای راتلونکې جوړه کړي.

ملګري ملتونه د هغه تړون هرکلی کوي چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي له کمیدو سره مرسته وکړي او اجازه ورکړي چې افغانان په سوله کې له یو بل سره ژوند وکړي. په افغانستان کې له لسیزو جګړو وروسته، ملګري ملتونه د روغې جوړې، هراړخیزې سولې او د شخړې د پایدونکې او مثبت پای په لور ټول ګامونه ویني، خو د انتقالي عدالت په تړاو مسلو او د بشري حقونو د تامین د ارزښت په اړه اګاه پاتې ده.

* * *

*په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چارې وړاندې کوي. "د ښه نیت چارې" هغه ډیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي ډول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت دارۍ د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو څارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږې پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.*